نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۲/۰۷

# د یوه اواره شاعر چیغې

شنو غنمو کې یو یو ژیړ شړشم ګل، سر هسک کړی و. باد به غنم داسې په یوه او بله ډډه کاږه کړل لکه کلب کې کتار سبز پوش ماشومان چې د جمناستیک لپاره د ملا حرکتونه اجرا کوي. زموږ د کلي د تور غره د دنګې څوکې پر سر لمر پرکیده تا به ویل افریقایي پیغلې پر تنده د سرو زرو ټیکه را ځوړنده کړې ده .

پر نرۍ پوله مې قدمونه اخیستل، واښه به مې داسې پښو پسې ونښتل، لکه پیر چې خانقاه کې د مریدانو له منځه تیریږي. څو ګامه لا تللی نه وم چې دوه کسان مخ په ما راروان و او لاسونه یې خوځول. یو مې له لرې وپیژانده؛ کلیوال مې و او بل چې لږ را نږدې شو او ور ځیر شوم، نو هغه څوک و چې نن مې ورته تازه چاپ شوې دربیمه شعري ټولګه ( ژوند چې شین شي له خندا نه) ،په کور کې له قرنطینه په استفادې، په پوره تلوسه ولوسته. کله به یې ستونی راډک کړ او کله به یې د طبعیت منظر کشیو د کلونو کلونو وړاندې هماغې دوریږ ته ستون کړم چې لږ مخکې مې درته کیسه وکړه. دا ځوان ښاغلی عزت الله شمسزی و او زه یې اوس تاسو ته د همدې تازه ټولګې په اړه خبرې کوم:

د ادیبانو سپارښتنه دا ده چې د کتاب لوستلو په مهال، شاعر/لیکوال، له پامه لرې کړئ.دا کار له نقادانو سره مرسته کوي چې بې پرې کره کتنه وکړي.لوستونکي سره هم همکاري کوي چې په مستقله توګه متن ولولي او د لیکوال په ځای له متن سره رابطه ټینګه کړي. دا ښه خبره ده؛ خو عملي کول یې مشکل دي. څنګه به اوس هغه څوک له پامه وغورځوم چې په هر بیت کې راته یا ژړغونی ولاړ او یا موسکی دی؟

د ( ژوند چې شین شي له خندا نه) شاعر له وطنه د جدایی زهر څښلي؛ نه، زهر ور باندې څښل شوي دي، دومره ترخه زهر چې کله یې خپله کیسه کوي، نو د مخاطب حلق هم تریخ کړي. په لوستلو یې د ( امراء القیس) په خبره ؛ له سترګو داسې اوښکې راوځاځي لکه حنظل چې مات کړې.

شاعر؛ لکه د ګڼو نورو افغانانو په څیر حالاتو له هغه ځایه شړلی دی چې ده په کې خاپوړې کړي، د ده ورسره د مینې پیوند دی او دا پیوند نه جلا کیدونکی دی؛ خو څه وکړي ظالم قسمت خپله سر زوري کړې ده :

**هیڅ یوه پریکړه کې یې مانه رایه نه ده غوښتې**
**له خپل قسمته مې بلا ډیرې ګیلې لرمه**

همدې جبري بیلتون داسې حالت ته رسولی چې کله یې درته کیسه بیان کړي؛ نو زړه دې پرې خوږ شي:

**بیلتانه داسې بیوسه دومره خوار کړم**
**ته به وایې یو ناهیلی شان دیوال یم**

**ګډوډ ذهن مې په سلو خواو خور دی**
**بس ولاړ د غورځیدو په استقبال یم**

دا شاعر (ترخو حالاتو اواره کړ) او اوس په دې اوارګۍ کې له خپګانه ډک زړه لکه ډک جام په احتیاط ګرځوي. سرې خپه دی، د خپلو خلکو خبرو پسې تږی تږی دی. رښتیا، دا ډیره سخته وي چې زړه دې ډک وي؛ خو دومره همنشینه څوک نه وي چې خپل زړه ور ته تش کړې:

**نه شته یو دوست چې لکه جام لکه غزل غوندې وي**
**زړه به دې غواړي خو له چا سره بنډار وکړې څوک**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**ماښامي دی وريځي ګرځي باران نه شته**
**چيرته لاړ شم پردی ښار دی زړه مي تنګ دی**

شاعر په ډک ښار کي په اشنايانو پسي سترګي اړوي را اړوي. په دي لټه کي دی چي څوک هموطنه پيدا کړي، پر اوږه يي ور ته ورو لاس کيږدي او بيا ور سره خپل غم وويشي؛ خو دريغا په لويه امريکا کي داسي يو څوک په مخه نه ور ځي. بيرته ډک زړه خپل کور ته راستنيږي . نارامه دی. اخر حل لاره مومي او هغه دا چي په خپل ذهن کي د لاروي په څيره کي يو هموطنه تخليقوي او بيا ورته خپله کيسه کوي. لکه ماشوم چي خپلي ګوډۍ ته لګيا وي:

**لارويه ځوانه هاغه غونډۍ ويني**
**هغه شني سرې لوپټي چي پرې رپيږي**

**دغه لوی واړه قبرونه مو خپلوان دي**
**هره ورځ يوه جنده په کي زياتيږي**

**لارويه! اوس هغه وختونه نه شته**
**چي بې ميو به مو مست هر مازيګر و**

**د دې کلي ډير ګلان مي وو همنومي**
**او په هر يو مې د غره هومره باور و**

**دا پټي پولي مي تول خواړه ياران وو**
**هاغه وړاندې ځمکه نه وه دومره شاړه**

**شنه خندا په شنو فصلونو ګرځيدله**
**ته وا سم لکه سپرلی د سيند په غاړه**

**اوس د سيند څپي له خپل ساحل ويريږي**
**فاصله د ابادۍ او غره زياتيږي**

**شنه چينه د ښامارانو دمه ځای شو**
**ستوري لرې کهکشان ته کډه کيږي**

او بيا چي لاروی هم ده ته کومه حل لاره و نه شي ښودلی؛ نو له هغه سره خبري بندي کړي او په زوره چيغه کړي:

**څه د نقاب پوشو په پنجه کي را ايسار يمه**
**تکه توره شپه ده ، توره شپه کي را ايسار يمه**

شاعر اوس اسوده ژوند لري، اولادونه يي د اختطاف له ګواښه خوندي دي. کورنى يي د انفجار، انتحار او بمبار له ويري په امن ده. اوبه يي سرې او ډوډۍ يي توده ده ... خو اخر دومره وير او ژړا د څه لپاره؟
شايد دوه علتونه ولري؛ لومړی دا چي دومره ډير درديدلی او له داسي ويرونکيو صحنو تير شوی چي ويره يي د زړه تل ته کوزه شوې او چي هر چيرته وي نو دا به ور سره لکه سايه ګرځي:

**څه ماتيدم او رغيدم په ټوله لاره ښار کي**
**چي را وتلی ومه روغ له انتحاره ښار کي**

دويم علت دا دی چي دا درد او ډار يي شخصي نه دی. د وطن يي دی، د ولس يي دی او دا کړيکي د هغه روان حالت دي چي شاعر يي تصور هم نشو کولای. شاعر، په خيال کي لاړ شي، خپل د اور بتې موجوده وطن له هغو وختونو سره پرتله کړي چي ده يي له مشرانو کيسي اوريدلي؛ نو په افسوس چيغه کړي:

**دلته څوک د بل په مرګ خوشاله نه و**
**هيڅ يو باغ بې موسيقى بې تاله نه و**
**دا ولس به و ساده، بې حاله نه و**
**وطن داسي د غومبسو ځاله نه و**

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

شاعر، په زړه پاک دی. په زړه نازک دی. هغه د واعظانو تر اغیز لاندې راغلی. له یوې خوا یې د وطن د بیلتون اور هېدونه سوزوي او له بلې خوا دې ته ځوریږي چې ګوندې دغه الیم عذاب یې د خپلو ګناهونو او اعمالو سزا ده. دغه تصور ورته یو دردناک عذاب، دوه چنده کړی دی :

**چې په ډک ښار کې نه ملګری وي نه یار درپسې**
**زړګیه وي به خامخا د چا ازار درپسې**

د (بار) نظم خو یې بیخي د جدایي ځړیکې دي.
ځینې داسې ګڼي چې ګوندې په عذاب ککړ چاپېریال نه تیښته به د سکون لامل شي؛خو کوم ګړاو چې په زړه باریک خلک د خپل ښار او کلي نه په جلا والي کې ګالي، درد یې په عذاب کې له ګیر خلکو څخه کم نه وي. ښاغلی شمسزی، د انتحارونو، چاودنو، بمبارونو او جګړو له ښاره ډیر لرې تللی؛ له لسګونو سمندرونو او غرونو اخوا اوښتی دی؛ خو د سکون درک یې نشته. راځئ په ارام خو پردي وطن کې د خپل شاعرحالت وګورو:

**ځانته په دښتو کې سندرې وایي**
**یو خړ مرغه ګویان زما غوندې دی**

د جګړې وحشتونو د شاعر پر نازکه زړه ویرونکې صحنې حک کړې او دا ویرونکې منظرې یې بیا داسې پر زړه او ژبه راشنې دي چې غیر ارادي یې مثالونو کې راوړي :

**راشه لږ مې زړه تر خپل انګاره وروسته و ګوره**
**حال د دغه ښار تر انتحاره وروسته وګوره**

کله چې غم او درد د چا زړه ته لاره وکړي؛ نو لکه وینه په هر رګ کې یې ګرځي. که دغه شان انسان بیا له دې خاکي ستوري والوځي او کومې بلې سیارې ته هم لاړ شي؛ نو درد او غم یې له زړه نه لرې کیږي او د شمسزي زړه ته خو یې داسې لاره کړې او مغز یې داسې ور ته په تورو منګولو کې رانیولی چې حتی نور شیان هم ده ته خپل ویر یادوي. لکه یو دوزخي ته چې حتی د ګل سُرخي هم لمبې ښکاري:

**وراندې پوله کې یو څو سورکي ګلان دي**
**لکه جنګ کې ایسار شوي ماشومان دي**

په هر صورت؛ ویره او امید د یوې تلې دوه پلې دي. تعادل ساتل یې په کار دی. که یوه پله درنه شي نو عاقبت یې خطرناک دی. حتی ایمان هم د دې دوو ترمنځ یو شی دی. ( الایمان بین الخوف و الرجاء) د شاعر غم که څه هم زیات دی؛ خو کوښښ کوي چې په امید یې غالب نه شي او د امید څراغ یې ګل نه کړي. نو لګیا دی خپله امید پیدا کولو ته شرایط برابروي، خپل ځان ته ډاډ ورکوي او په قفس کې ایسار ځان هم په خپل دښمن ( جبر) زورور ګڼي او هغه ته اخطار ور کوي:

ستا قفس یې هم ارام ته پرې نه ښود
زور مې د ترلي وزر وګوره

له دې حالت وروسته ورو ورو په راتلونکي خوشبینه کیږي او د حالاتو د تغییر روحیه پکې شنه کیږي او (لار د داسې موسم ځارم) کې خو بیخي ویره لرې غورځوي او ښې راتلونکې ته شیبې شماري :

لار د داسې موسم ځارم
حافظه د دنګ چنار چې
د ویالې په غړ تازه شي
په سینه کې یې نومونه
د مینو را ښکاره شي
د جومات مخې ته پوله
په زلمیو ښایسته شي

وطن ته د همدې موسم د را رسیدو په هیله!

نعمان دوست، ۱۳۹۹ د ورې ۸مه

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ